افغانستان

دوه پېړۍ او دوه امپراتورۍ

Download from: Aghalibrary.com

ذکریا ملاتړ

۱۳۹۴ لمریز کال

افغانستان؛

دوه پېړۍ او دوه امپراتورۍ

لیکوال:

ذکریا ملاتړ

۱۳۹۴ل کال

Download from: Aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحیم

کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: افغانستان؛ دوه پېړۍ او دوه امپراتورۍ

لیکوال: ذکریا ملاتړ

خپروندی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۴۳)

یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

Download from: Aghalibrary.com

د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه وکړه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ کړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې برياله کړى، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

Download from: Aghalibrary.com

سریزه

افغانستان د اسیا د لویې وچې په زړه کې یو داسې هېواد دی، چې د خپل خاص جغرافیوي او ستراتیژیک موقعیت له کبله د تاریخ په اوږدو کې د خارجي تیري کوونکو له خوا د هند د نیمې وچې د نیولو او ساتلو په عرض، تر سختو بریدونو او چپاوونو لاندې راغلی دی.

د هخامنشیانو، یونانیانو، عربانو، چنګیزیانو، مغلانو او انګریزانو څخه نیولې بیا تر روسانو پورې هېڅ یو خارجي ځواک په دې نه دی توانیدلی، چې د افغانستان څخه فاتح او بریالي ستانه شي.

ایو حرګند حقیقت دی چې د افغانستان مجاهد او قهرمان ولس په تش لاس د ایمان او غیرت په زور د نولسمې او شلمې پېړۍ په دوران کې د وخت دوه لویو استعماري امپراتواریو ته تاریخي او شرمناکه ماته ورکړېده.

افغانانو په دې تاریخي بریو باندې د ګڼو افغاني لیکوالو او تاریخ څېړنکو له خوا په مختلفو وختونو کې زیاتې څېړنې تر سره شوې دي چې زه یې په دې لیکنه کې یوازې نچوړ جاج او پرتله وړاندې کوم.

څرنګه چې د انګریزانو د لومړي تیري (۱۸۳۹م.) څخه بیا د روسانو تر مستقیم پوځي تیري (۱۳۵۸ هـ. ش.) ترمنځ تقریباً یو سلو پنځوس کلونو تیرشوي وو مګر دغو دواړو پوځي ځواکونو د افغانستان د نیولو او بیا ماتې په برخه کې په یو ډول سرنوشت باندې اخته شوي دي.

زه د خپلې پورتنۍ خبرې د پخلي له پاره لومړۍ د دې دواړو ځواکونو د څو مشترکو کارونو او ټکو یادونه کوم، او ورسته یې بیا تفصیل رواړم.

۱- انګرېزانو ارزو درلوده چې د خپلې امپراتورۍ سرحدونه افغانستان شمال او غرب خواته پراخه کړي.

روسانو هم غوښتل چې د خپلې امپراتورۍ سرحدونه د جنوب او شرق په لور پراخه کړي.

دواړو ځواکونو د دې موخو د سرته رسولو له پاره افغانستان نیول او ساتل ضرور ګڼل.

۲- انګرېزانو هغه وخت د افغانانو د سرتاسري پاڅون پر اساس ماته وخوړه او روسانو هم د افغانانو د یو سرتاسري پاڅون په نتیجه کې ماته وخوړه.

۳- انګرېزانو د خپل پوځي تیري په وخت کې د افغانانو د تیر ایستلو له پاره یو فراري سدوزايي سردار شاه شجاع له ځان سره د خپلو لښکریانو په سر کې را روان کړی و او روسانو هم د خپل مستقیم پوځي تیري تر شا یو شړل شوی ګوډاګی ببرک کارمل د خپلو لښکریانو د لکۍ پسې تړلی و.

۳- انګریزانو د خپل تیري په لومړیو ورځو کې ځانونه د افغانانو مېلمانه بلل، مګر کله چې د افغانستان په ستراتیژیکو سیمو کې یې خپلې لښکرې ځای په ځای کړې، نو بیا یې ځانونه مېلمانه نه، بلکې حاکمان او واکداران بلل.

روسانو هم په لومړیو ورځو کې داسې ویل چې مونږ د کابل رژیم په خوښه او بلنه راغلي یو، کله چې افغانستان کې خارجي لاس وهنه بنده شي نو خپل پوځیان به د افغانستا څخه وباسو، مګر کله چې هغوی هم خپل پوځیان په ټول افغانستان کې ځای په ځای کړل، نو بیا یې داسې بهانه جوړه کړه چې زمونږ د خاورې جنوبي سرحدات د غربي هېوادونو تر خطر او ګواښ لاندې دي تر هغه پورې چې د غربیانو دا ګواښ موجود وي مونږ به دلته مېشت یو.

۵- کله چې شاه شجاع د عام دربار کولو څخه لیرې شو، نو د انګریزي پوځیانو له خوا محاصره او د یو بندي په شکل ساتل کېده او د امیر دوست محمد خان په بیا راتګ یې ډارولو.

روسانو هم د ببرک کارمل په څور باندې پیره کوله او د حفیظ الله امین د طرفدارانو له خوا یې د وژلو ویره ورته په زړه کې اچولې وه.

۶- د یو کره او تائید شوي راپور پر اساس د انګریزي او روسي ښکیلاک ګرو دواړو پوځي ځواکونو په افغانستان کې پنځوس زره پوځیان وژل شوي دي.

۷- د وخت دواړو سترو ځواکونو خپل پوځیان د افغانستان څخه په یو ساړه او غمجن ژمي کې ایستلي او ډېر په بد حالت اخته شوي دي. د پورتنۍ لنډې څرګندونې څخه وروسته به بې ځایه نه وي چې دا پېښې په تفصیل سره وڅېړو یعنی لومړی د انګریزانو پوځي یرغل (۱۹۳۹ م.) او بیا د روسانو پوځي یرغل (۱۳۵۸ هـ- ش.) د تاریخي حقایقو په رڼا کې وڅېړو. تر څو د افغانستان د مېړني او مجاهد ولس کارنامې او یادګارنه د تل له پاره د تاریخ په رزینو پاڼو کې ژوندي وساتل شي.

لو مړی حپر ډی

پر افغانستان باندې د انګرېزانو لومړی پوځي تېری (۱۹۳۹ م.)

کله چې په نولسمه پېړۍ کې انګریزان په دې تمه او هڅه کې شول چې د خپلې امپراتورۍ سرحدونه د امو سیند تر حوزې پورې پراخه کړي او د هند د نیمې وچې د ساتلو له پاره

روسانو د پرمختګ مخه ډب کړي، نو په دې موخه يې پر افغانستان باندې يرغل يو لازمي عمل وګاڼه.

هماغه و چې (۵۴۱۵۰) پوځيان يې په عصري وسلو سره سمبال د افغانستان د نيولو له پاره را مارش کړل.

انګريزانو داسې پرېکړه وکړه چې ټول پوځيان به د خيبر د تاريخي درې له لارې د جلال آباد له خوا نه په لنډه لار په کابل باندې خيژوي.

مګر د سيکانو واکدار رنجيت سنګ د خپلې ويرې او ډار له کبله د دې کار سره مخالفت ښکاره کړ. انګريزان مجبور شول چې د اوږدې لارې نه خپل پوځيان د سند د رودخانې په امتداد د ښکارپور څخه تير کړي او د بلوچستان د بولان درې څخه د کندهار په لور حرکت وکړي.

په (۱۸۳۹ م) کال د جنوري په شلمه د سند سيند غاړې ته ورسيدل په درياب يې پل وتاړه او په ښکارپور کې د شاه شجاع د لښکرو سره يو ځاى شول.

په دې وخت کې د هند د وایسرای لارډ اکلنډ له خوا یو تکړه انګریزي سیاسي کارکوونکی مکناټن د شاه شجاع سره د سفیر او فوق العاده استازي په توګه ټاکل شوی و.

افغانستان خلک چې دا وخت د داخلي ګډوډیو او نارامیو څخه پوزې ته راغلي وو د یو داسې حکومت او پاچا په لټه کې وو چې فقط په هېواد کې سوله او امن راولي او بس.

انګریزانو د وخت نه په ګټې اخستلو سره د شاه شجاه په پلوۍ له پخوا نه په سلګونو اعلامیې خپرې کړې وې، چې په افغانستان کې د تاج او تخت رښتني وارث د احمد شاه بابا لمسی شاه شجاع دی؟ کله چې نوموړی د چارو واګې ترلاسه کړي نو د ټولو مامورینو او محلي خانانو په معاشونو او جایګیرونو کې به پوره زیاتوالی راشي...

لنډه دا چې انګریزانو د شاه شجاع د پاچا کېدو له پاره له مخکې نه ډېر زیات زیار ایستلی و، تر څو نوموړی افغانانو ته د یو ګران او محبوب پاچا په توګه معرفي کړي. او خپل ځانونه د هغه سره د څو ورځو مېلمانه وښیي.

کله چې شاه شجاع د انګریزي پوځیانو په مټ او مرسته د بولان د تاریخي درې له لارې د کندهار ښار ته ورسید نو انګریزانو د شاه شجاع تاج پوښۍ په مراسمو کې خپل بیرغونه د پاچا د رسم تعظیم له پاره نیم ځوړند نیولي وو، او پاچا یې د (۱۰۱) توپو په ویشتلو سره په تخت کښېناو.

په دې وخت کې د زرګونو افغانانو په وړاندې (مکناټن) او جنرال (کین) د شاه شجاع په حضور کې د احترام مراسم په ځای کړل.

همدا شان ورته مراسم د شاه شجاع د زوی شهزاده (تیمور) له پاره په پېښور کې هم تر سره شول. انګریزانو تر دې نېټې وروسته دوه میاشتې کندهار کې تیرې کړې تر دوو میاشتو وروسته یې په کلات او غزني حمله وکړه – که څه هم انګریزانو ته په دې حمله کې زیات تلفات ورسیدل خو بیا هم غزنی ونیول شو.

کله چې امیر دوست محمد خان د غزني د نیولو خبر شو نو سمدستي یې خپل ورور نواب عبدالجبارخان د مکناټن د ملاقات له پاره هلته ولیږلو.

مګر مکناټن د نواب د لیدلو څخه ډډه وکړه او د هغه ټولې غوښتنې یې رد کړې.

امیر دوست محمد خان د زیاتې مایوسۍ له امله خپله ټوله اردو او پوځ یوازې پریښود، بامیان او خلم ته وتښتید او له هغه ځایه د خپلو زامنو او وریرونو سره یو ځای د بخارا په لور لاړ.

غزني تر نیولو وروسته انګریزانو د شاه شجاع سره یوځای کابل په لور حرکت وکړ.

په (۱۸۳۹ م) کال د اګست د میاشتې په (۷) نېټه بې له کوم مقاومت او مزاحمت څخه په ډاډه زړه او سړه سینه د کابل په ښار ورننوتل.

په دې وخت کې د کابل په زرګونو ښاریان د خپل حقیقي پاچا لیدلو او نندارې له پاره راوتلي وو، کله چې د شاه شجاع په څنګ کې مکناټن او جنرال کین ولیدل شول نو په ټولو ښاریانو باندې د مایوسۍ سړه څپه راغله او خپلو کورونو ته بیرته وګرځیدل.

شاه شجاع د کابل په بالا حصار ننوت او د کندهار څخه وروسته په دوېم ځل بیا د تاج او تخت د کښېنا ستلو مراسم یې ونیول.

پر افغانستان باندې د انګریزانو دغه پوځي یرغل په شپږو میاشتو کې پای ته ورسید. کله چې هغوی د افغانستان په مهمو سیمو او ولایتونو کې خپل پوځونه ځای پر ځای کړل. نو په ښکاره ډول د انګریزانو په رویه او عمل کې بدلون ولیدل شو. هغوی نور ځانونه مېلمانه نه بلکې د افغانستان واکداران او حاکمان بلل او مکناټن په عملي توګه ځان افغانستان صدراعظم وباله، ټول ملکي کارونه او عسکري

چارې، مقررۍ او برطرفۍ به د نو موړي له خوا سرته رسيدلې.

شاه شجاع به په لومړيو وختونو کې عام دربار کاوه چې خلکو په عرايضو او مشکلاتو باندې په اسانۍ سره غور او اجراآت وکړای شي. مګر د هغه واک اختيار ورو ورو د کميدو خوا ته روان و. بالاخره يو وخت دا سې هم راغی چې نوموړی به د انګريزانو له اجازې پرته د خپل دربار او استوګن ځای د باندې هم نشو وتلای. د پاچا په عمارت او دربار د انګريزانو د محافظ ګارډ پيره وټاکل شوه او د پنځه زره انګريزي پوځ له خوا پاچا د يو بندي په توګه ساتل کيده.

يو وخت شاه شجاع د مکناټن څخه وغوښتل چې په افغانستان کې اوس حالات سم شوي او ارامي راغلې ده ستاسې پاتې کيدو ته نور ضرورت نه ليدل کيږي.

مکناټن ورته په ځواب کې وويل: د امير دوست محمد خان دوېم ځل د راتګ خطر شته، انګريزان تر هغې پورې نه شي وتلای تر څو چې دغه خطر له منځه نه وي تللی. شاه شجاع د

مکناټېن خپله یو وخت داسې غوښتنه هم کړې وه، چې د مجاهدینو او غازیانو سره باید سوله وشي او رهبران او مشران یې معاف کړی شي.

مگر مکناټېن نه یوازې دا چې د پاچا پشنهادونه یې رد کړل، بلکې داسې پرېکړه یې وکړه چې شاه شجاع نور له بالاحصار څخه وباسي او د انگرېزانو نظامي قشلې ته یې ولېږوي.

لنډه دا چې شاه شجاع د انگرېزانو د ناخوالو څخه دومره په تنگ شو چې نور ځان د سلطنت څخه گوښه کړي او د حج په بهانه له افغانستان څخه پښې سپکې کړي مگر په دې کار سره هم بریالی نه شو.

انگرېزانو دا ناسمه رویه افغانانو ته هغه وخت ښه معلومه شوه، چې کله یې د کابل حاکم ملا عبدالشکور خان لېرې کړ او د هغه په ځای محمد عثمان خان نظام الدوله مقرر کړ. انگرېزانو په دې کار سره افغانان پوه شول، چې پاچا نور انگرېزانو سره بندي دی او کارونه ټول مکناټېن کوي.

تر دې نېتې وروسته په هېواد کې د مسجد ملا امامانو او مذهبي مشرانو د پاچا نوم له خطبې څخه لېرې کړ او انګريزانو په ضد يې د عمومي پاڅون اعلان وکړ.

دا وخت د کوهدامن مجاهدين د مير مسجدي خان په مشرۍ او د تګاب او نجراب مجاهدين د سلطان محمد خان په مشرۍ د جهاد او غزا په نيت راپورته شول. او د کابل- جلال آباد لويه لار يې تر تهديد او حملو لاندې ونيوله.

کله چې امير دوست محمد خان د انګريزانو په مقابل کې کابل د خلکو د پاڅون او جهاد اعلان څخه خبر شو نو سمدستي يې په شمالي کې ځان غازيانو ته ورساو.

مير مسجدي خان او نورو مشرانو د امير دوست محمد خان څخه د يو ملي رهبر په توګه استقبال او درناوی وکړ.

مګر ناڅاپه امير دوست محمد خان له مجاهدينو د صف څخه ځان وايستلو او ورک شو.

د ۱۸۳۰م. کال د نوامبر حلورمه نېټه ده چې امیر دوست محمد خان مکناټن ته تسلیم شو. مکناټن نوموړی د خپلې کورنۍ سره یو ځای هندوستان ته ولیږداوه. او د یو بندي په توګه یې هلته ساتنه کیدله.

پروان او کاپیسا مجاهدینو چې کله د امیر دوست محمد خان په تسلیمۍ باندې خبر شول نو په دې پېښې سره هغوی روحیات له لاسه ورنه کړل، او د پخوا په شان یې د دښمن په ضد خپل جهاد ته دوام ورکړ.

کابل د خلکو د پاڅون څخه وروسته، د کندهار مجاهدیو د محمد اختر خان په مشرۍ او د هرات مجاهدینو د وزیر یار محمد خان په مشرۍ د انګریزانو په مقابل کې د جهاد اعلان وکړ.

په کندهار کې انګریزانو د پوپلزیو مشرانو ته سل زره روپۍ رشوت ورکړ چې پوپلزي او بارکزي په خپلو منځو کې سره وجنګوي- مګر د انګریزانو دا دسیسه هم ناکامه شوه. په کندهار کې د عمومي مجاهدینو مشري میرزا احمد خان او د

ابدالي قوم مشري د عطا محمد خان په لاس کې وه، او د غلجا يي مجاهدينو مشرتوب د محمد خان او مير عالم خان په غاړه و.

ځرنګه چې، دانګريزانو زيات شمېر پوځيان د کندهار د مجاهدينو سره په جګړه کې بوخت وو، نو هېڅکله يې دا وخت پيدا نه کړ چې له کندهار څخه کابل ته کومکي پوځ را ولېږي.

همدا شان د غزني مجاهدين د ملک محمد خان او تاج محمد خان په مشرۍ د انګريزانو په مقابل کې راپورته شول او په ۱۸۴۱ م) کال يې د کندهار او کابل ترمنځ عمومي لار بنده کړه. د ګرديز او زاوه د کليو مجاهدين هم د (۱۸۴۱ م) کال په دسمبر مياشت کې د انګريزانو په ضد راپورته شول. مکناټن هغوی د مقابلې له پاره يو لوی پوځ واستاوه مګر بېرته په ماتې سره راستون شول.

انګريزانو چې دا وخت شل زره پوځ په کابل، پنځلس زره په کندهار پنځه زره په جلال آباد او لس زره پوځ په غزني، کلات

او بامیانو کې د وحت په عصري وسلو سره ځای په ځای سمبال کړي و. خو د دې مجهز پوځ په مقابل کې افغاني غازیانو له دوی سره یوازې د دارو په ټوپکو، تورو او نیزو مقابله کوله.

افغانستان په تاریخ کې (۱۸۴۱ م.) کال د نوامبر دوېمه نېټه یوه مهمه او له ویاړه ډکه ورځ ګڼل کېږي.

پورتنۍ نېټې څخه یوه ورځ دمخه د مجاهدینو انقلابي شورا د کابل ښار د عاشقان او عارفان په مشهوره ناحیه کې د انګریزانو سره د منظم جهاد طرحه وړاندې او د عمومي پاڅون له پاره یې پلان ترتیب کړ، د هر مشر له پاره جلا جلا وظایف وټاکل شول، د امیر دوست محمد خان وراره سردار محمد زمان خان د انقلاب د مشر او امین الله خان لوګری یې د مرستیال او نائب په توګه وټاکل.

سربېره پر دې یوه دولس کسېزه کمیټه یې د جنګ او سولې د چارو د سمون له پاره وټاکله. د کابل ښار دا پاڅون تر (۲۵)

ورحو پورې اوږد شو ، تر دې وروسته د هرې ورځې په تیریدو سره د انګریزانو په پوځونو باندې د محاصرې کړۍ تنګیدله.

بالاخره د نوامبر د میاشتې په (۲۵) نېټه (۱۸۴۱ م.) کال مکناټن د سردار محمد زمان خان خاص نماینده سلطان محمد خان سره پټې خبرې پیل کړې.

په همدې ورځو کې سردار محمد اکبر خان او سلطان احمد خان چې د بخارا پاچا له بنده نوی راخلاص شوی وو، کابل ته راورسیدل او د ملي مبارزینو سره یو ځای شول. له دې نېټې څخه یو ورځ وروسته په (۱۸۴۱م.) کال د نوامبر په (۲۲) نېټه میرمسجدی خان مسموم کړای شو. درې ورځې وروسته غازي عبدالله خان اڅکزیي شهید کړی شو. مګر د بر ژر د هغوی ځای د سردار محمد اکبر خان او محمد شاه خا غلجایي په راتګ سره ونیول شو.

مکناټن په دې وخت کې شاه شجاع ته ورغی او ورڅخه یې وغوښتل چې د انګریزانو نظامي قشلې ته راشي. مګر شاه شجاع د انګریزانو پوځی قشلې ته له تګ څخه انکار وکړ

بالاخره ملنا ټن مجبور شو چې د مجاهدینو د مشرانو سره غیر مستقیمې خبرې پېل کړي، یو مسوده یې چې، په څلورو مادو کې ترتیب شوې وه د مجاهدینو مشرانو ته وړاندې کړه، په مسوده کې داسې راغلي وو.

۱- انګریزي پوځونه به له افغانستانه څخه وځي.

۲- شاه شجاع به له حکومت څخه لرې او لودیانه ته به واستول شي، او هر کال به نوموړی ته درې سوه زره روپۍ د معاش په توګه ورکول کېږي، او پر ځای به یې امیردوست محمد خان کابل ته واپس راستون شي.

۳- انګریزي پوځونه به د وتلو تر اخیري نېټې پورې یو افغاني سردار د خوراک او پوشاک د برابرولو په غرض له ځان سره ساتي.

۴- انګریزان به د بیا له پاره د افغانستان په خاورې یرغل نه کوي تر هغه چې په افغانستان کې یو دوست حکومت هغوی د رابللو غوښتنه نه وي کړې.

د مجاهدینو مشرانو هم د انګریزانو د پورتني قرارداد مسودې په وړاندې له خپل اړخه د یو قرارداد مسوده چې په دولس مادو کې ترتیب شوې وه مکناټن ته واستوله چې د هغې مسودې مهم ټکي دا دي:

دوه کسه افغانان به د کابل څخه تر جلال آباد پورې د بدرګې په ډول د انګریزي پوځیانو سره ځي. انګریزان به د مخه خپل پوځونه د کندهار، جلال آباد او غزني څخه وباسي او خپل ټول جنګي مهمات به افغانانو ته سپاري.

د بیا له پاره به انګریزان د افغانستان نوم هم په خوله نه اخلي.

د انګریزانو د وتلو تر پای نېټې پورې به افغانان د دوی د پوځ ساتنه په غاړه اخلي.

دا وخت د کابل د سخت ژمي له کبله انګریزان د سختې لوږې او کاختۍ سره مخامخ وو. د مجاهدینو مشرانو د هغوی سره خپلو وعدو پر اساس د نغدو پیسو په بدل کې د درې سوو

زرو معادل غله او خوراکه په هغوی باندې داسې ګرانه حرکه کړه چې یو لپه غنم یې ورباندې په یوه روپۍ وپلورل.

کله چې انګریزانو ته غله او خوراکه په لاس ورغله او هم یې د بالاحصار څخه پنځه زره محاصره شوی پوځ چې د کابل ښاریانو د تنګ په وخت کې ورباندې ایشیدلې اوبه او نور ګنده شیان وراچول د نظامي قشلې سره یو ځای شول، نو مکناټن بیا ډاډه شو او په نویو دسیسو یې لاس پورې کړ. دا ځل یې د امیر دوست محمد خان د کشر زوی سردار محمد اکبر خان سره په پټه توګه د یو قرارداد مسوده چې پنځه مادې یې درلودې وړاندې کړه. سردار محمد اکبر خان د دې له پاره چې مکناټن ټګي د مجاهدینو مشرانو ته معلومه کړي دغه قرارداد په منلو هوکړه ور سره وکړه، خو په دې شرط چې د تړون لاسلیک د خاصو مراسیمو په ترڅ کې تر سره شي.

(۱۸۴۱م.) کال د دسمبر (۲۴) نېټه وه چې مکناټن سهار وختي د خپلو درې لویو جنرالانو سره چې د یوې ډلې سپرو له خوا بدرګه کیده د نظامي چونۍ څخه راووتل او هغه ځای ته

راغلل چې سردار محمد اکبر خان، محمد شاه خان، خدابخش خان او مومن خان ورته په انتظار کې ناست وو.

دواړو خواوو خبرې پیل کړې، لومړی سردار محمد اکبر خان ورته هغه خبرې او قراردادونه یویو په ګوته او یاد کړل، چې انګریزانو د افغاني مشرانو سره یو د بل په خلاف لاسلیک کړي وو. په پای کې سردار محمد اکبر خان مکناټن ته مخ واړاوه او په سخته لهجه یې ورته وویل...تاسو په خپلو خبرو او وعدو باندې ټینګ نه یاست؟ د درواغو، ټګۍ او چل څخه بل هېڅ کار نه لرئ تل غواړئ، چې افغانان یو د بل په ضد ولمسوئ او تاسو خپل اقتدار په مونږ جاري وساتئ، نو ښه به داوي چې تاسو نور زمونږ سره بندي پاتې شئ او یو سپاهي موهم را څخه ژوندی لاړ نه شي.

مکناټن چې د دغو ټولو خبرو په مقابل کې ځواب نه درلود، حیران او چپ پاتې و. سردار محمد اکبر خان نوموړی د لاس څخه ټینګ راونیو او د ښار په لور یې د ځان پسې راکش کړ،

مکناټن په دې وخت کې په سردار محمد اکبرخان د حملې کولو ګوابښ او هڅه وکړه.

مګر سردار محمد اکبرخان ډېرژر د مکناټن په بد نیت پوه شو، سمدستي یې په مکناټن حمله وکړه، مکناټن او کپتان (تریور) دواړه د سردار محمد اکبرخان او د هغه د ملګرو پواسطه ووژل شول، کپتان میکنزي یې د ځان سره بندي بوتلو او بلارنس ته یې په دې عرض د تېښتې زمینه برابره کړه چې د انګریزانو قشله د مکناټن د مرګ له پېښې څخه خبره کړي.

دې تاریخي پېښې او بري وروسته د مجاهدینو مشرانو په خپل منځ کې یوه لویه جرګه جوړه کړه او خپل وړاندې شوې دولس نکاتي قرارداد باندې یې درې نورې مادې هم ور زیاتې کړې، چې تر دې وروسته به انګریزان خپل ټول پوځي او جنګي مهمات افغانانو ته سپاري.

بې غیر د شپږو توپونو به نوره ټوله توپخانه افغان مجاهدینو ته تسلیموي.

او دربېیم دا چې د یرغملو انګریزانو سره به ښځې هم پاتې کېږي.

نویو ورزیاتو شوو مادو د قرارداد مسوده یې د انګریزانو قشلې ته واستوله د انګریزانو له خواهم سمدستي د جنرال الفنستن او پاتنجر په مشرۍ نظامي شورا جوړه شوه او د انګریزي یرغملو پوځیانو سره یې د ښځو پاتې کېدو نه غیر نور ټول د مجاهدینو شرطونه په ځان ومنل.

او د خپلو پوځیانو د وتلو له پاره یې د (۱۸۴۲م.) کال د جنورۍ شپږمه وروستۍ نېټه وټاکله...

قرارداد له مخې چې کله دانګریزانو د پوځونو د وتلو وروستې نېټه راورسیده.

نو لومړۍ یې ټوله توپخانه مجاهدینو ته تسلیم کړه.

انګریزانو دا وخت ځکه د بېړې څخه کار واخیست چې نوره ورسره د پوځیانو له پاره توښه او خوراکه خلاصه شوې وه، او یوازې د شپږو ورځو توښه یې درلودله.

قرارداد پر اساس په لومړۍ ورځ ټول پوځ د کابل له ښار څخه وایستل شو، دا شپه یې په بګرامیو کې راغله چې نسبتاً وربانديې ښه تیره شوه.

په دې وخت کې د کابل مجاهدینو ته پرله پسې خبرونه راورسیدل، که چېرې د جنرال الفنستن پوځونه د جنرال سیل له پوځونو سره یو ځای شي. او هم د جنرال پالک پوځیا جلال آباد له خوا نه او د جنرال ناټ پوځیان د کندهار له خوانه پر کابل حمله راوړي، نو بیا به د افغانستان څخه د انګریزانو پوځونو د ایستلو مسئله اوږده او د یو لړ ستونزو سره به مخامخ شي.

نو پر دې اساس مجاهدینو پریکړه وکړه چې د جنرال الفنستن ټول پوځ جلال آباد ته د رسیدلو څخه دمخه په لاره تباه او له منځه لاړ شي.

پورتنۍ پریکړې پر اساس د الفنستن ټول پوځیان د یوې هفتې په دوران کې د کابل- جلال آباد په لویه لار د مجاهدینو

د سختو حملو لاندې راغلل او د (۱۷) نيم ژره پوځ څخه يوازې يو کس ډاکټر برايډن په ژوبل حالت کې ځان جلال آباد ته ورساو- ډاکټر برايډن د کابل- جلال آباد په لويه لار د انګريزانو د پوځيانود تباهي ټوله کېسه خپلو انګريزي حاکمانو ته تيره کړه.

داسې وايي چې، د دې جنګ د شدت او د هشت له امله يو بل انګريز ډاکټر (دف) خپل د وينې رګ پرې کړ او انتحار يې وکړ.

انګريزان ځکه په دې جنګ کې د زياتو تلفاتو سره مخامخ شول چې د قرارداد مطابق يې خپل پوځونه دمخه د جلال آباد او کندهار ښخه ونه ايستل.

افغان مبارزينو د دې تاريخي بري نه وروسته سردار محمد اکبرخان سمدستي د جلال آباد ښار تر محاصرې لاندې ونيو، انګريزي بنديان چې شمېر (۴۴) کسو ته رسيده، لغمان ته بوتلل او هلته يې د بديع آباد په کلا کې تر څلورو مياشتو

پورې وساتل. د دې له پاره چې د جلال اباد محاصره د حتیخ خوا نه ماته نه شي، د احمد خان میراخور په نوم یو تکړه مجاهد یې خیبر درې ته ولیږلو تر څو شینواري، اپریدي او مومند قامونه د انګریزانو په ضد په جهاد لاس پورې کړي.

سردار محمد اکبر خان او محمد عثمان خان د پنځلس زره مجاهدینو په ګډون د جلال آباد په ښار حمله وکړه – د دې حملې نه وروسته په کابل کې د امین الله خان لوګري او میر حاجي په مشرۍ کې لویه غونډه وشوه – په غونډه کې د جلال آباد په لور د جهاد اعلان وشو. په غزني کې هم یوازې د څو کسو انګریزي بندیانو څخه نور د انګریزانو نوم او نښان پاتې نه شو.

په کندهار کې هم مجاهدینو د پرله پسې حملو پر اساس (۸) زره انګریزي پوځیان وو ژل شول او درې سوه اوښان یې د مجاهدینو لاس ته غنیمت راغلل.

لنډه اچې د جنرال ناټ او جنرال سیل پوځونه په کندهار او جلال آباد کې د داسې سختو ورځو سره مخامخ شول چې، د تېښتې لار ورڅخه ورکه شوه.

کله چې انګریزانو د جنګ په ډګر کې د افغانو څخه سخته ماته وخوړه نو د مجبورۍ له امله د جنګ په ځای د ډیپلو ماسۍ لاره غوره وګڼله.

تر څو له دې لیارې څخه د خپلې امپراتورۍ د شرمناکې ماتې بایللی نوم بېرته ژوندی کړي.

یو کره خپور شوي راپور له مخې انګریزانو په دې جنګ کې (۵۴) زره پوځیان شل ملیونه پونډه او پنځوس زره اوښان له لاسه ورکړل. د دې جنګ د غلت سیاست له امله د هند ګورنر جنرال لارډ اکلنډ بدل کړی شو او په ځای یې لارډ ایلنبرو وټاکل شو.

کله چې د کابل- جلال آباد په لویه لار د انګریزي ټولو پوځونو تباهۍ خبر او په کندهار کې او جلال آباد کې د زیات شمېر انګریزي پوځیانو محاصره کېدل او د مجاهدینو سره د شاه شجاع د ملګري کېدلو خبر په ټول هندوستان کې خپور شو، نو سم له لاسه د هند د نوي ګورنر جنرال لارد ایلنبرو له خوا امیر دوست محمد خان د منصورۍ له غرونو څخه کلکتې ته راوغوښتل شو. دا وخت چې امیر دوست محمد خان افغانستان د جنګ د حالاتو او د انګریزانو له ماتې او تباهۍ څخه بیخي ناخبره و. کله چې امیر د لارد ایلنبرو نرمه او پسته لهجه وکتله نو لومړی ډېر حیران او خوشحاله شو.

هند ګورنر جنرال امیردوست محمد خان ته په نرمه ژبه وویل:

انګریزان تر دې وروسته غواړي خپل پوځیان له افغانستان څخه وباسي او تاسو بېرته د کابل پر تخت کښېنوي.

انګریزان له تاسو سره دوستي غواړي. زموږ د دې نظریې او اقدام سره تاسو څه ډول فکر لرئ؟

امیردوست محمد خان چې د انګریزانو دومره مهرباني ولیدله نو د ټولو لومړی یې د زړه له اخلاصه تشکر ترې وکړ.

وروسته بیا لارد ایلنبرو یو وړاندیز وکړ، چې سردار محمد اکبر خان د انګریزانو په مقابل کې د مجاهدینو مشر دی. که تاسو خپل زوی ته امر وکړئ چې د خپلو مجاهدینو او غازیانو سره یو ځای د هندوکش شمال ته پر شا لاړ شي.

تر څو انګریزي پوځیان یو ځل بیا د خپلې لویې امپراتورۍ د حیثیت د ساتلو په غرض کابل ته ولاړ شي او له هغه وروسته بېرته یو ځای د خپلو بندیانو سره د هندوستان په لور راستانه شي، د دې کار په کولو سره به تاسو د خپلې کورنۍ سره یو ځای د افغانستان د تاج او تخت د بېرته نیولو په غرض، د کابل په لورې حرکت وکړئ.

امیردوست محمد خان چې هېځله یې د خپل هېواد د خلکو په جهادي ځواک باور او تکیه نه لرله، او له بلې خوا هندوستان د ګرمې هوا او د زندان ناخوالو ډېر ځورولی و، یو ځل بیا یې په یو اړخېزه توګه د انګریزانو سره یو شرمناکه قرارداد چې د ټول هېواد، مجاهدینو او حتی د خپل ګران زوی په ضد یې و، لاسلیک کړ. تر څو چې نوموړی امیر ژوندی و، د دغه شرمناک قرارداد پا بند او پیرو پاتې شو.

په داسې حال کې چې افغاني مجاهدینو د امیر دوست محمد خان د کورنۍ د حیثیت ساتلو په غرض (۳۰۰) سوه لوړ رتبه انګریزي منصب دار او مامورین د ځان سره د بندیانو په توګه ساتلي وو امیر دوست محمد خان د انګریزانو سره د دغه بې قید او بې شرطه قرارداد د لاس لیک څخه وروسته سردار محمد اکبر خان ته خپلې عینکې او د نسوارو دبلی د نښانې په توګه ولیږه، تر څو د انګریزانو سره د جهاد نه لاس واخلي. سردار محمد اکبرخان هم دانګریزانو د یو لړ ګوابنونو او د پلار د غوښتنو پر اساس د افغاني مبارزینو بریالی دریځ

او فشار، د ماتې خوړونکو او مغلوبو انګریزانو په سر باندې څه ناڅه کم کړ.

سردار محمد اکبرخان د خپل پلار د لیک او کړن لارې په برخه کې د افغاني مشرانو سره سلا مشورې پېل کړې، او دا یې لازم وبلل، چې انګریزي بندیان د محمد شاه خان په لاس لغمان څخه د کابل ولایت ته راولي.

(۱۸۴۲ م.) کال د اپریل په پنځمه نېټه شاه شجاع چې د جلال آباد په لور د ملي لښکرو سره روان و، سهار وختي د نواب محمد زمان خان، نورمحمد خان، شاه غاسي او دلاور خا پواسطه ووژل شو.

شاه شجاع د وژول کېدو نه وروسته د کابل د سلطنت په سر باندې د نواب محمد زمان خان او امین الله خان لوګري په منځ کې اختلافات پیدا شول د یو لړ داخلي جنګونو او نا ارامیو څخه وروسته د مجاهدینو د مشرانو له خوا سردار محمد اکبر خان د مشر په توګه وټاکل شو.

سردار محمد اکبرخان د مجاهدینو د مشرانو سره د امیر دوست محمد خان پلان او نقشه د افغانستان د راتلونکي په برخه کې په صادقانه او رښتني ډول مطرح کړه او پخپله له کابل نه د ځان ایستلو په بهانه د بامیانو خوا ته لاړ د جنرال پالک پوځونو په جلال آباد کې د (۵) میاشتو تیرولو وروسته د کابل په لور حرکت وکړ. د دې پوځونو سره یو ځای راغلی د شاه شجاع زوی شهزاده فتح جنګ د (۱۸۴۲ م.) کال د دسمبر په (۲) نېټه د کابل په بالا حصار کې په تخت کښېناست او بیا انګریزانو هغه ځای په توپونو سره والوزولو چې د مکناټن او (تریور) جسدونه پکې راځړول شوي وو.

ځرنګه چې په انګریزانو نور د کابل ښار تنور ګرځیدلی و. نو په (۱۸۴۲ م.) کال د نومبر په میاشت کې یې د افغانستان څخه د خپلو پوځیانو په وتلو شروع وکړه. شهزاده شاپور چې د فتح جنګ څخه وروسته د کابل پر تخت ناست و، د انګریزانو وتلو او د وزیر اکبر خان د راتګ د خبر په اوریدلو سره له کابل څخه وتښتید.

امیردوست محمدخان چې شل ورځې یې په لاهور کې تېرې کړې وې، د پېښور له لارې کابل ته راستون شو. او د نواب محمد زمان خان، وزیر اکبرخان، نواب جبارخان او سلطا احمد خان له خوا یې په سرحد کې هرکلی وشو او پر دې اساس امیر دوست محمدخان د درې کاله او څلورومیاشتو سلطنت څخه وروسته په دوېم ځل بیا د کابل پر تخت کښېناست.

موهن لال چې د امیر دوست د ژوند په حالاتو یې کتاب لیکلی -او دغه کتاب د انګریزانو له خوا هم تاید او منل شوی دی، پر افغانستان باندې یې د انګرېزانو د یرغل او د لارډ اکلنډ او مکناټن تیروتنې په دې ډول بیان کړی دي.

۱- د ملي مشرانو سره مخالفت او د هغوی بې احترامي کول.

۲- د اداري فسادونو زیاتیدل او په مقابل کې یې د آمرینو بې تفاوته پاتې کیدل.

۳- د افغانستان په کمو او لږو عایداتو باندې د یوې لویې اردو د مصارفو تحمیلول.

۴- په مملکت کې ببرته د بارکزیو مشرانو په قدرت راوستل، میشته کول او د هغوی بې احترامي کول.

۵- د یو ملت د ملي روحیاتو او ملي عنعناتو سره بې ځایه تصادم او بې اعتنایي کول.

۶- د ښورښ او الې ګولې په وخت کې د هند څخه سم لاسي کومک نه غوښتل.

۷- د لارد کین په ځای د یو بل ناروغ او نالایق جنرال الفنستن ټاکل.

یو بل انګریز منصب دار (ډیورنډ) په خپل کتاب کې د افغانانو له خوا د انګریزانو دغه ماته د هند په تاریخ کې ډېره لویه او شرمناکه ماته بولي.

ځمدا رنګه له دې شرمنا کې ماتې وروسته په ټول حتیځ کې د انګریزانو په مقابل کې د ټولو ملي مبارزینو له خوا د آزادۍ احساسات راوپاریدل.

لنډه دا چې انګریزان په افغانستان باندې د دغه پوځي یرغل څخه وروسته دې نتیجې ته ورسیدل، که چېرې انګریزان بیا له پاره په افغانستان باندې پوځي یرغل وکړي، نو دا به انګریزانو له پاره کامیابي نه وي او نه به یې په قدرت کې زیاتوالی راشي، بلکې هغوی به نور هم کمزوري شي.

تر دې وروسته باید د افغانستان د نیولو په برخه کې د انګریزانو د پراختیا غوښتنې پلان او نقشه له سر او نظر وغور څخه تیر شي

دویم څپرکی

پر افغانستان باندې د روسانو مستقیم پوځي یرغل (۱۳۵۸\۱۰\۶ ل)

کله چې روسي تزاریان د خپلې امپراتورۍ جنوب خواته د پراخوالي او تودو اوبو ته د ځان رسولو په فکر کې شول، لومړی یې زمونږ د هېواد په شمالي ګاونډي، ترکستان یرغل وکړ.

د تزاریانو هدف په دی حمله کې داو چې د بخارا، سمرقند او خیوې ازاد سیاسي موجودیت د نړۍ له نقشې څخه لېرې کړي او کرار کرار ځانونه هدف ته نږدې کړي.

کله چې دغه استعماري ځواک زمونږ د هېواد شمالي سرحد ته راورسید نو زمونږ د هیواد یوه برخه یعنی پنجده یې ونیوله او د خپلې امپراتورۍ پورې یې وتړله.

کله چې د دې تزارې امپراتورۍ په ظاهري بڼه کې بدلون راغی او نوې کمونستي څېرې رامنځ ته شوې، نو په ځان کې يې د ترکستان د خلکو سره د مقابلې توان ونه ليد. په دروا غو يې هغوی ته د خپلواکۍ ورکولو وعدې ورکړې، کله يې چې قدرت واګی ټينګې کړې. نو د بخارا سمرقند او خيوې خلک د هغوی د وعدو پر اساس د خپلواکۍ غوښتونکي شول. مګر نو يو بادارانو د هغوی دا غوښتنې د انقلاب ضد عمل وباله او د سور ګارد زيات شمېر پوځيان يې د هغوی د سر کوبو لو له پاره ترکستان ته واستول.

افغانستان چې دا وخت نوې له انګريزانو څخه خپلواکي ترلاسه کړې وه او د يو ازاد هېواد په حيث په نړۍ کې پېژندل شوی و.

غازي امان الله خان د روسانو نوې کمونيستي دولت په رسميت پېژني، ورسره د دوستي تړون لاسليکوي چې يو د بل په کرنيو چارو کې به مداخلت نه کوي.

په ښکاره حو روسانو د دعه تړون هرکلی وکړ او امان الله خان سره یې د هر ډول مرستو وعدې وکړې او دا یې هم ور سره ومنل چې د ترکستان خلکو ته به د حق خود ارادیت حق ورکوي او هم به پنجده ببرته افغانستان ته سپاري. مګر کله چې په ۱۹۲۹ م. کال د اکتوبر په میاشت کې محمد نادر خان قدرت واګی تر لاسه کړی، روسیه د ده حکومت په رسمیت پېژني.

دا هغه وخت دی چې د روسانو او مرکزي اسیا د مسلمانو ترمنځ چریکي جنګونو دوام درلود ، او د انوربیګ ترمرګ وروسته یو بل پیاوړی بسمچي مجاهد ابراهیم بیګ په ځان باندې مجاهدین راټولوي په ابراهیم بیګ به چې کله سخته راغله نو افغانستان ته به را اوړیدلو ، دلته به یې د یو څه تیاري وروسته بیا روسانو سره په جنګ پیل کولو. روسانو په محمد نادرخان باندې زیات فشار را وړ، چې ابراهیم بیګ ته اجازه ورنه کړي، چې د افغانستان له خاورې نه د روسانو په ضد فعالیت وکړي.

محمد نادرخان هم د روسانو د خوشحالولو له پاره خپل ورور شاه محمود خان د يو منظم پوځ سره د هېواد شمال ته واستاوه.

ابراهيم بيګ ماته وخوړه او بېرته روسي ته فراري شو. په ۱۹۳۱ م. کال د اپريل په مياشت کې ابراهيم بيګ شهيد شو او روسان د بسمچي نهضت د مزاحمت څخه بې غمه شول.(۱)

اوس به راشو د دې پوښتنې ځواب ته چې افغانستان ولې د روسانو په غيږ کې پريوت.

کله چې په ۱۹۵۹ م. کال پاکستان د سنټو په (پکټ) کې شامل شو. افغانستان د دې کار سره مخالفت وکړ. دا ځکه چې پاکستان د روس سره سرحد نه لري – دومره د روسانو د تهديد لاندې نه دی لکه څومره چې افغانستان دی. د دې کار په مقابل کې افغانستان د امريکا څخه د وسلو او نظامي مرستو غوښتنه وکړه.

مګر د امریکا له خوا دا غوښتنه په کلکه رد شوه. امریکایانو دا فکر کاوه چې افغانستان په وچه کې پروت هېواد دی، که یې روس هم ونیسي پروا نه کوي، ځکه بحر ته لار نه لري.

امریکایانو د دې سوړ چلند پر اساس چې کله روسانو په ۱۹۷۸ م. کال په افغانستان کې کودتا وکړه، نو امریکایانو ورسره هم هغه وخت دومره دلچسپي ونه ښوده. د سردار محمد داود خان د سپینې کودتا سره یې هم بې تفاوتي ښودلې وه.

روسانو د محمد داودخان په کودتا او جمهوریت کې ډېر شمېر کمونیستان په حکومت کې ورداخل کړل چې د همدې کمونیستانو او نوکرانو څخه یې د محمد داود جمهوریت په ړنګولو او بدنامولو کې هم کار واخېست.

روسانو مناسبات چې کله د داود خان سره خراب شول- داودخان کرار کرار د لوړو چوکیو څخه د کمونیستانو په لېرې کولو پیل او اعلان یې وکړ، چې زه کومې پارټۍ پورې اړه نه لرم، مسلمان یم، کمونیست نه یم، له دې اعلان څخه

وروستـه نومـوړی اسـلامي او بـې طرفـه هېوادونـو تـه حپـل سفرونه پېل کړل.

محمد داود خان چې په ۱۹۷۷ م. کال مسـکو تـه سفر وکړ، نـو برژنـف وربانـدې د غربـي هېوادونـو سره پـه اړيکـو جوړولـو اعتراض وکړ او ورته يې وويل:

پخـوا د افغانسـتان پـه شـمال کـې د لويـد يځو هېوادونـو متخصصينو او څېړونکـو تـه اجازه نـه وه، مګر اوس داسې ليدل کېږي چې دا قاعده ماته شوې ده.

جمهـور رييس محمـد داود خـان ورتـه پـه ځـواب کـې داسې وويل:

موږ بـه هېڅکلـه تاسو تـه دا اجـازه درنکـړو چې خپـل هېوا څنګه اداره کړو او څوک پـه کومـو ځايونو کـې وګمارو، دا د افغانستان د دولت پورې اړه لري...

دې حبرو نه وروسته داود حان په عوسه را پورته شو. برژنف ورنه د یو بل خصوصي ملاقات غوښتنه وکړه. مګر داود خان د برژنف سره ملاقات کول رد کړ.

تر دې سفر وروسته داود خان خپله اتکا او تمه د روسیې څخه وشلوله په ګاونډیو، اسلامي او غربي هېوادونو یې اتکا زیاتوله.

روسانو هم تر دې وروسته د داود خان په له منځه وړلو کې جدي شول. پرچمیان او خلقیان یې سره یو ځای کړل، او په ۱۳۵۷ هـ.ش. کال یې په رڼا ورځ یو ولس بجې د داود خان په ضد کودتا پیل کړه. جمهور رییس محمد داود سره د خپلې ټولې کورنۍ ووژل شو. او په ځای یې نور محمد تره کی د انقلابي شورا د مشر، جمهور رییس او صدارا عظم په توګه وټاکل شو، ببرک کارمل د هغه مرستیال او حفیظ الله امین د بهرنیو چارو د وزیر په توګه اعلان شول او د فرمانونو په جاري کولو یې پیل وکړ.

ښحو فرمان یې جاري کړ، د هغوی مهر یې د ريې سوه افغانی وټاکه. د سود او ګروې د لغوه کولو فرمان یې جاري کړ. ځمکو او اصلاحاتو فرمان یې اعلان کړ، چې ځمکه د هغه چاده چې کار ور باندې کوي، او همداسې فرمانونو لړې روانه وه.

که څه هم روسانو په ښکاره د افغانستان د انقلاب او خلق د موکراتیک ګوند ملاتړ کاوه - خو د حفیظ الله امین په تګ لاره خوښ نه و.

ځکه حفیظ الله امین د پرچمیانو خلاف و. د پر وخت تیر نه شو چې ببرک کارمل او د هغه خاص ملګری یې په کودتا باندې تورن کړل او د سفیرانو په توګه یې له هېواده بهر وشړل.

روسانو غوښتل چې حفیظ الله امین لرې کړي او په ځای یې ببرک کارمل بېرته راولي. د دې کار په عملي کولو کې زیات رول د هغه وخت (K,G,B) د مشر اندري پوف و.

نو موړی د روسیې رهبري په دې شــمنه دړې وه چې حفـ
الله امــین د (C,I,A) ســره اړیکــې لــري، یعنــې بیخــي د
امریکایانو جاسوس دی.

نور محمد تـره کی د ببرک کارمـل او حفـیظ الله امـین د خپـل
منځي اختلافاتو په دوران کې د خفـیظ الله امـین پلوي کولـه
او هغه یې وفادار شاګرد باله.

کله چې نور محمد تره کی په **۱۳۵۸** ل کال د سنبلې په میاشت
کې د ناپیلو هیوادونو په کنفرانس کې د ګډون له پاره کیوبا
ته لاړ، د دې کنفرانس نه په واپسۍ کې په لنډ ډول پـه مسـکو
کې تم شو.

د دې تم کېدنې په دوران کې نورمحمد تره کي د ببـرک کـارمـل
سره د برژنف په حضور کې کتنه وکړه ، د دې کتنـې پـه نتیجـه
کې داسې پریکړه وشوه ، چې حفیظ الله امین حتمي باید لـه
منځه لاړ شي او په ځای یې ببرک کارمل د صدراعظم په توګه
وټاکل شي، په دې کار سره به خلک د دولت په ضد یو څه ارام

شي، او هم به د تیرو ټولو تیروتنو او ستونزو پړه په حفیط الله امین وا چول شي.

مخکې تر دې چې نور محمد تره کی کابل ته راستون شي. حفیظ الله امین د دې ټول جریان څخه د سید داود تړون له خوا خبر یږي.

حفیظ الله امین په نور محمد تره کی ړومبی شو، په ارګ کې دوی تر منځ جنګ ونښت، نور محمد تره کی ونیول شو، چې وروسته بیا ووژل شو او په دې توګه حفیظ الله امین د حزب د عمومي منشي او انقلابي شورا د ریس په توګه د قدرت ټولې واګې په خپل لاس کې واخیستې.

کله چې حفیظ الله امین قدرت ته ورسید، نو د روسانو سره یې مناسبات نور هم خراب شول.

روسان هم د حفیظ الله امین د له منځه وړلو په پلان باندې په چټکې سره کار پیلوي.

لومړی یې امین په دی قانع کړ چې ارګ پرېږدي او تاج بیګ قصر ته لاړشي ترڅو په اسانه توګه یې له منځه یوسي. کله چې په ۱۳۵۸ هـ ش. کال د جدي په شپږمه روسانو په افغانستان باندې مستقیم تیری وکړ، یولک او شل زره پوځونه یې د ځمکې او هوا له لارې افغانستان ته داخل کړل. حفیظ الله امین یې له منځه یوړ او په ځای یې خپل نوکر او ګوډاګی ببرک کارمل راوست. د روسانو د مستقیمې مداخلې وروسته امریکا او ناټو هم داسې پریکړه وکړه چې افغانستان د روسانو سره د یو دوامدار جنګ له پاره ډېر موثر او محکم ځای دی.

پاکستان ته یې د افغانستان له امله ډېر اهمیت ورکړ. جنرال ضیاءالحق سره یې د زیاتو مالي او نظامي مرستو وعدې وکړې پاکستان هم د دې فرصت نه ګټه واخیسته چې وینه به افغانانو تویږي او پیسې به زمونږ جیبونو ته راځي.

جنرال ضیاء الحق د دې کار د عملي کولو له پاره د افغانانو اوه رسمي او یوولس غیر رسمي تنظیمونه جوړ کړل.

ببرک کارمل تکیه هم یوازې په روسانو وه، همېشه به یې د روسانو صفت کولو او د غربیانو به یې غندنه کوله. روسانو د ببرک لـه پـاره څو مشـاورین او محـافظین ټـاکلي وو. شپه او ورځ به د کارمل سره ناست وو، هغه به یې څارلو او مشـورې به یې ورکولې د کارمل خوراک او پوشاک هم د روسانو پـه خوښه او لاس کې و.

روسي مشاورینو ټول کارونه په خپـل واک کې اخیسـتي وو، یوازې د ببرک کارمل په لاسلیک او مهر به صادریدل.

ببرک کارمل ته به اول بیانیه په روسي ژبه لیکل کیده. بیا به د تاجیکي مشاور له خوا په پارسي ترجمه کیدلـه او کارمـل بـه په ډېر فخر سره وړاندې کوله. په دې وخت کې هغو محصلینو چـې پـه روسـیه کـې زده کـړې کـړې وې او د (K,G,B) پـه سازمان کې تنظیم شوي وو، ټول پـه افغانسـتان کـې پـه دندو وګمارل شول، ځکه دوی په روسي ژبه ښه پوهیدل او روسانو ترې ښه کار اخستلای شو. تر دې وروسته په هر دولتـي پست

باندې د وزير نه نيولې تر مدير پورې يو روسي مشاور او يو افغان ترجمان وټاکل شول.

مشاور له اجازې پرته به تشناب ته هم څوک نشو تلای. روسانو کوښښ داو چې تردې وروسته هر څه روسي شي. په دې لړ کې ښوونې او روزنې ته تر هر څه زيات پام وګرځيد ، يعنې تعليمي نصاب يې روسي کړ ، چې د راتلونکي نسل څخه د افغانيت مفکوره وباسي، دوی د اسلام په مقدس دين، افغاني اخلاقي او فرهنګي معيارونو باندې ملنډې وهلې ، چاپلوسی د روسانو له پاره مود ګرځيدلی وه او د ټولو خلقيانو او پرچميانو کورونه د مشاورينو له پاره د عيش او نوش په ځايونو بدل شوي وو.

هر وزارت نه نيولې تر مديرت پورې په هر اداري ارګان کې (خاد) شبکې فعالې شوې. په هر کار کې به د (خاد) موافقه ضرور وه.

په نړيواله سطحه د ملګرو ملتونو له خوا هم په روسانو فشار داسې مرحلې ته رسيدلی و چې خپل پوځونه نور وباسي، که

چېرې روسان په ابرومندانه ډول له افغانستان ځخه وتلو ته غاړه کېږدي، نو د خلق د يموکراتيک ګوند ته به په راتلونکي ايتلافي حکومت کې هم ځای ورکړی شي. مګر روسانو دا ويره لرله که چېرې له افغانستان نه ووځي. نو د دوی پلوي حکومت او طرفداران به له ځېرمې له منځه لاړ شي.

روسانو وړانديز دا و مخکې له دې چې دوی له افغانستان نه خپل پوځونه وباسي، خلا يې بايد د ملګرو ملتونو د سولې پوځونه ډکه کړي.

مګر پاکستان په دې نظر و چې دا خلا بايد پاکستاني پوځونه ډکه کړي او که داسې ونه شي نو په افغانستان کې به زياته مرګ ژوبله رامنځ ته شي او پاکستان ته به نور مهاجر هم رامات شي.

امريکا او روسانو په دی موافقه کړې وه چې په جنګ کې په دواړو ښکيلو ډلو باندې بايد وسلې قطع شي.

ګرباچوف هم په دې پوهېده چې د امریکا سره د مناسباتو جوړولو له پاره د دوی په منځ کې لوی خنډ د افغانستان مسله ده، ځکه چې امریکا په افغان مجاهدینو کلکه ولاړه وه.

امریکایانو کوښښ داو چې څرنګه ګرباچوف په دې راضي کړي چې خپل پوځونه له افغانستان څخه وباسي او د قدرت انتقال په ارامه توګه سرته ورسیږي.

بالاخره روسانو داسې پریکړه وکړه چې د افغانستان نه خپل پوځونه وباسي او افغانستان دولت خپله دفاع نوره په خپله وکړي. ببرک کارمل د دې کار په مقابل کې جدي عکس العمل وښود چې زه هیڅ کله د دې پریکړې سره توافق نه لرم. که روسي پوځونه له افغانستان څخه ووځي، مونږ به ټول په وینو کې ډوب شو، انقلاب به ناکام شي.

روسانو ببرک کارمل ته په مقابل کې وویل:

دې معنا داده چې هغه انقلاب چې تاسو په افغانستان کې عنوان کړی دی خلک يې نه مني او تاسو يې زمونږ د لښکرو په زور په خلکو منې؟

ګرباچوف په دې اړه په واضح ډول وويل، چې د شوروي اتحاد خلک له دې جګړې نه ډېر ناراضه دي، نور دوي خپل زامن د جګړې ليکو ته نه استوي.

خلاصه دا چې روسانو نه غوښتل چې ببرک کارمل نور په قدرت کې پاتې شي په څه بهانه يې مسکو ته وغوښتلو هلته ورته جريان ټول واضح کړ، د ببرک کارمل تر راتګ دوه ورځې وروسته په کابل کې پلينوم داير کړی شو، کارمل يې د ناروغۍ په نوم د ټولو دندو نه ګوښه کړ او په يوه پوځي الوتکه کې مسکو ته وليږل شو.

ډاکتر نجيب الله چې د ببرک کارمل له خوا ګوند ته جذب شوی و د قدرت واګی په لاس کې ونيولې. په هغه وخت کې چې په روسيه کې اندري پوف واکمن و، اندري پوف کوښښ کولو چې هماغه وخت ډاکتر نجيب الله قدرت ته ورسوي.

مګر د اندري پوف تر مرګ وروسته، چرنتکو چې د برژنف سره هم نظر و د ببرک پښې یې ورټینګې کړې. او ډاکټر نجیب الله څه موده بیرته شاته شو. ډاکټر نجیب الله د ببرک کارمل برعکس د غربي نړۍ خبریالانو ته خپلې دروازې خلاصې کړې.

(خاد) جاسوسي سازمان چې د ببرک کارمل په وخت کې نوموړي پخپله دهغه مشري کوله دا وخت ډېر قوي شوی و.

په دې وخت کې د ګرباچوف کوښښ دا و چې خلقیان پرچمیان بیا سره یو ځای کړي او غیر کمونستان په قدرت کې شریک کړي- په مهمو وزارتونو باندې دوی کښېنوي او پاتې نور وزارتونه غیر کمونستانو ته ورکړي.

ډاکتر نجیب الله د خپلې بقا له پاره کوښښ کولو چې جنګ ته خاتمه ورکړي د ملي مصالحې په نوم یې کمېسیون جوړ کړ او د روسانو سره یې په ګډه د دې کار له پاره تبلیغات پیل کړل.

تصمیم د اسې ونیول شو چې مجاهدین هم په قدرت کې شامل شي قومي شوراګانې رامنځ ته شوې، ځینې نوې مقررۍ وشوې. دوکتور محمد حسن شرق د صدراعظم په توګه وټاکل شو.

په دولتي دستګاه کې ښکاره بدلون راغی. د (خاد) واک په کمیډو شو، د ملګرو ملتونو د خاص نماینده سفرونه کابل، اسلام آباد او تهران ته شروع شول.

د مخه تردې چې روسان له افغانستان نه ووځي ډاکتر نجیب الله هم په حسن شرق بدګمانه شو او په ځای یې سلطان علی کشمند وټاکل شو روسانو له افغانستان څخه په وتولو پیل وکړ ځکه د هغوی اقتصادي مجبوري وه، نور یې افغانستان ته پیسې، وسلې او خوراکي توکي نه شو برابرولی.

دا وخت په ډاکتر نجیب الله باندې، د روسانو، غربیانو، پاکستان، ایران او مجاهدینو له خوا ډېر سخت فشار و چې په هر حال باید قدرت پریږدي.

له بلې خوا په حکومت کې داخل د ببرک کارمل طرفدارانو هم په ډاکتر نجیب الله سخت فشار راوستی و چې په هره طریقه کیدای شي ډاکتر نجیب له منځه یوسي په دې وخت کې خلقیان هم د حزب اسلامي د ګوند سره په تماس کې شوې وو چې د (I-S-I) سره یې په ګډه د شهنوازتنې کودتا د دې ډول فعالیتونو یوه برخه وه.

ببرک کارمل طرفداران هم د احمد شاه مسعود سره تنظیم شول. د شمال ملیشې او دوستم هم د نجیب خلاف شول. دا وخت د سولې پروسه د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي بنین سوان په لاس کې وه.

تر ډېرې سلا مشورې وروسته ډاکتر نجیب الله په دې سره موافقه وکړه چې یو انتقالي حکومت ته واک وسپاري.

دې موقتي ادارې له پاره د (۱۵) کسو لیست تیار شو چې په دې کې د (۹) کسو لست ورته د کابل حکومت ورکړی و.

ملکرو ملتونو هم پاکستان باندې فشار راوړی و چې د مجاهدینو له خوا ورته شپږ کسان معرفي کړی شي. په حکومت کې د ببرک کارمل طرفدارانو دا کوښښ کولو چې یوې پټې د سیسې له لارې بیا ببرک کارمل قدرت ته ورسوي، مګر دا د سیسه داسې ناکامه شوه چې نه ببرک کارمل قدرت ته ورسید او نه ډاکترنجیب په قدرت کې پاتې شو. په دې وخت کې داسې اوازې هم خپرې شوې چې ډاکتر نجیب الله تیار دی چې قدرت پخواني پاچا محمد ظاهر شاه ته وسپاري.

دې کار سره جهادي تنظیمونو مخالفت وکړ او ظاهر شاه هم دا طرحه ونه منله. که په رښتیا سره دا طرحه هغه وخت عملي شوې وای نو افغانستان به د دومره تباهۍ او مشکلاتو سره نه وای مخامخ.

امریکا او پاکستان هم دې پایلې ته رسیدلي و، چې مجاهدین نشي کولای د جنګ له لارې د ډاکتر نجیب حکومت ختم کړي بلکې زیات کوښښ یې داو چې په داخل

کې د دوی تر منځ اختلاف راولي. چې بلا خره دا اختلافونه دې مرحلې ته ورسیدل چې ډاکتر نجیب الله مجبور شو چې د راډیو له لارې خپله استعفا وړاندې کړي په دې لړکې ډاکتر نجیب الله ته د اسحاق توخي له خوا احوال رارسیږي چې ټول ځایونه د هغه د کور په شمول محاصره شوي دي بله لار نشته دوی دواړه د هوايي میدان په لور د تیښتې حرکت کوي مګر په لار کې ورته د دوستم د ملیشې له خوا د ورتګ اجازه نه ورکول کیږي او ناچار د ملګرو ملتونو دفتر ته پناه وړي بل روایت داسې دی چې کله د سولې پروسه ناکامه شوه، بنین سوان ناڅاپه کابل ته سفر وکړ او غوښتل یې چې ډاکتر نجیب الله له کابل څخه وباسي ډاکتر نجیب د جنرال عظیمي څخه چې دا وخت د کابل د ګارنیزون عمومي قوماندان و د شپې نوم تر لاسه کوي د جمهوري ریاست څخه تر هوايي میدا پورې بنین سوان هم ورسره ملګری و، له شپږو پوستو څخه تیر شو، د هوايي ډګر وروستې پوسته چې ازبک ملیشه په

کې وه را وګرځول شو، ناچار د ملګرو ملتو دفتر ته راغی او پناه یې واخیسته.

د ډاکټر نجیب د رژیم په سقوط کې د ببرک کارمل، فرید مزدک، نجم الدین کاویاني او نورو ببرک پلو پرچمیانو پوره لاس درلود.

دوی د احمد شاه مسعود سره په جبل السراج کې معاهده لاس لیک کړې وه چې جنرال دوستم او جنرال مومن یې هم د ځان ملګري کړي و، همدا لامل و چې د ډاکټر نجیب د سقوط نه وروسته په کابل کې لومړی واک جنرال عظیمي او عبدالرشید دوستم ته په لاس کې ورغی.

همدا شان جهادي مشران د نوازشریف په مشرۍ په پېښور کې راټول شوي وو او فیصله دا سې وشوه، چې صبغت الله مجددي به د دوو میاشتو له پاره رییس جمهور کېږي او یو عبوري حکومت به جوړوي، تر دوه میاشو وروسته به استاد برهان الدین رباني د دریو میاشتو له پاره د جمهور رییس په توګه ټاکل کېږي.

په دعه مسحره ډوله پريکړې سره د امريکا او پاکستان هدف داو چې دا تنظيمونه په خپلو کې وجنګوي چې همداسې وشول او افغانستان په هره برخه کې د تباهۍ کندې ته ولېد.

کابل ته د صبغت الله مجددي د راتګ په وخت کې چې قدرت پرچميانو په لاس کې و، پرچميانو نه غوښتل چې د يو منظم پلان له مخې قدرت مجاهدينو ته تسليم کړي، بلکې په يوه مختصره غونډه کې جنرال عظيمي په تلويزيون راښکاره او په يوه خاص انداز يې وويل: دا دى مونږ قدرت مجاهدينو ته تسليم کړ.

تر دې وخت پورې خلقيانو نه غوښتل چې قدرت د نظار شورا، دوستم او جنرال عظيمي ته تسليم کړي، هغوى داخله وزارت او نور ټول قطعات حزب اسلامي ته تسليم کړل. له همدې ورځې نه په کابل کې اختلاف را څرګند شول، د حزب او جمعيت جنګ ونښت. چې نتيجه يې د افغانستان په تباهۍ او بربادۍ تمامه شوه.

په پای کې خپلې خبرې داسې راغبرګوم، چې انګریزان په نولسمه پیړۍ کې او روسان په شلمه پیړۍ د افغانستان په نیولو بریالي نه شول. د دوی دریځ د افغان مجاهد ولس په وړاندې یو ډول و، چې د لوستنکو به هرو مرو پام ورته شوی وي.

ماخذونه

۱-افغانستان ټولو ته یو درس او ازموینښت. غ،ف. اعظم۱۹۸۲م کال

۲- افغانستان در مسیر تاریخ، میر غلام محمد غبار، ۱۳۴۶ کال.

۳-افغانستان په نولسمه پیړۍ کې. سید قاسم رښتیا ،۱۳۴۱ل کال.

۴- شاه شجاع او ببرک د تاریخ په تله کې. حبیب الله رفیع،۱۳۶۴ل کال.

۵- تحلیل واقعات سیاسي افغانستان (۱۹۱۲- ۱۹۶۲ م.)

عبدالحمید مبارز، طبع دوم ، ۱۳۷۷ل کال.

۶- ژوندي خاطرې په تیرو نهو لسېزو کې ، افغانستان تاریخ، ډاکتر عبدالعلي ارغنداوي. بي،بي،سي. پښتو څانګه ۱۹۹۷ز کال.

مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (حاجي وحیدالله ولیزي) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملی تحریک

د افغانستان ملي تحریک

www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۴۳

Download from: Aghalibrary.com